# د نوروز د ښه لمانځلو په هکله تفاهم ته اړتیا ده

نوروز، د نوي کال لومړی ورځ، د طبیعیت د حتمي او قطعي بدلون ورځ، د پسرلي پیل یا د بزګر ورځ چې په هر نامه یې وبولو؛ د یادولو، لمانځلو اودرناوي وړ دی. که زموږ د هېواد هر وګړی خپل ځان ته وګوري او په انصاف قضاوت وکړي، د یو هجري شمسي کال په پای کې، لکه د حوت د شلمې نېټې څخه وروسته چې د پسرلي راتګ نژدې کېږي، په طبیعت او خپل ځان کې بدلون وینې. غرونه، رغونه، ورشوګانې او ونې شنه کېږي، ګلان غوړېږي، هوا ښه کېږي، ویده ژوي د ژمي له درانده خوبه پاځی او له خپلو تورو او سړو سوړو څخه راوځي، د ژمي د سړو له وېرې تللي مرغان بېرته راځی او په کلیو او باندو کې شورماشور جوړوي، شپانه بیا خپله توله پورته کوي چې د کلیوالو رمې د غرونو لمنو ته بوځي او هورې د مینې بدلې وبولي او هر څوك دې ته هوسېږي چې یو ګټور کار وکړي، نوي ګلان وکري او نیالګي کیږدي. بزګران پټیو ته ځي او د نوي فصل د کرلو کارونه پیلوي، ښځې خپل کورنه څندي، د نوي کال راتګ ته چمتووالي نیسي، سمنك کري او د اوه ډوله وچو مېوو او د اوه ډوله خوړو د برابرولو بندوبست کوي.

داسې فکر کېږي چې د نوروز لمانځنه د کوم ځانګړي دین دود نه؛ بلکې د طبیعت د بدلون، د ژمي د سړو شپو ورځو د پای او د پسرلي د ښکلو ورځو د راتګ لمانځل دي. په دې ورځ طبیعت او انسانان واړه د بدلون، د ښه کېدلو او پرمختګ له پاره سره یو ځای کېږي. د هغه انسانانو په ژوند کې چې د نوروز د لمانځلو په فرهنګي- جغرافیایي حوزه کې استوګن دي، یوه نوې فضا منځ ته راځي او یوه ښکلې سبا او ښایسته راتلونکې ته د خلکو تمه پیاوړې کېږي!

که موږ د نړۍ د نورو هېوادونو جشنونو، د خوشالیو ورځو او مناسبتونو ته وګورو؛ نو وبه وینو چې دا د همدې هېوادونو خلك دي چې د تاریخ په اوږدو کې یی، د ځان د خوشالولو له پاره ځینې ځانګړې ورځې په بېلابېلو نومونو ټاکلي چې د لمانځلو له پاره یې تیاریانې نیسي، نوې جامې اغوندي، ځانونه خوشالوي، سندرې بولی، نڅاوی او اتڼونه کوي او خپل وخت ښه تیروي.

که له ځینو ډېرو سپېڅلو دیني ورځو څخه تېر شو، دا نورې ټولې داسې معمولي ورځې دي چې خلکو د ځانونو د خوشالولو له پاره په خپله جوړې کړي، په خپله یې ستایي او په خپله یې لمانځي.

ښکاره خبره ده چې د خلکو خوشالي، هوسا ژوند او د فکر آرامي د پرمختګ لومړني بنسټونه بلل کېږي، هغه خلك چې خپه وي، په خپګان کې وي او اوږده_ اوږده اسویلي وباسي، د پرمختګ له پاره ډېر تیار نه ښکاري!

تاریخ وایي چې زموږ د اوسني افغانستان په ډېرو پخوانیو زمانو او وختونو کې داسې مېلې او جشنونه وو چې همدې خلکو خپله جوړ کړي او خپله به ورته هوسېدل.

موږ د ساماني په شان د داسې مېلو سابقه لرو چې خلك به غرونو، غونډيو، دښتو او مېله ځايونو ته وتل، نوې جامې به يې اغوستې، ګلان به يې ټولول، سندرې به يې ويلې، اتڼونه به يې کول او حتی پېغلو او ځوانانو به همدلته سره ليدل، پېژندل او د خپل راتلونکي ژوند له پاره لوظونه کول!

د نوی کال د لومړۍ ورځې لمانځل هم زموږ د پخوانيو او لرغونو جشنونو څخه دی چې کابو پنځه زره کاله سابقه لري. د دې ورځې فلسفې ته په کتو سره، ويل کېدای شي چې د نوي کال د لومړۍ ورځې لمانځل، په حقيقت کې د ژوند، طبيعت او انساني ارځښتونو لمانځل دي چې زموږ په کلاسيکو ادبياتو، فولکلوريکو سندرو، هنر، کورني او ټولنيز ژوند کې ژورې ريښې لري.

په افغانستان کې د نوروز لمانځل په کوم ځانګړي قوم يا مذهبي ډلې يا سمت پورې اړه نه لري؛ بلکه په هر هغه هېواد يا سيمه کې چې د کال څلور بېلابېل فصلونه لري، د ژمي سوړ فصل پای ته رسي او د پسرلي ښکلي فصل پيل کېږي، دا ورځ لمانځل کېږي. البته دا لمانځنه په بېلابېلو سيمو او هېوادونو کې توپير لري؛ خو عمومي هدف يو دی: د طبيعيت د بدلون جشن، د نوي کال د پيل جشن، د پسرلي د راتګ خوشالي، د بزګري کارونو د موسم پيل او د کرکيلې، ښکېښې، ښېرازي او شنه کېدلو د ورځو پيل!

هجري شمسي کليز هم د همدې ورځې په بنسټ د لمر د حرکت له مخې جوړ شوی. لمر په قرآن عظيم الشان کې د (ورځې آيت) بلل شوی چې مسلمانان د خپلو لمنځونو او د ورځې او شپو د پيل او پای وختونه د هغه له مخې ټاکي.

کله چې د اسلام مبارك دين افغانستان ته راغی او خپل_ خپل ځانګړي مناسبتونه يې راوړل، لکه دواړه عيدونه، چا د نوروز د لمانځلو مخه و نه نيوه. برعکس دين او دودنه يا عنعنات سره يو ځای شول او اوسنی نوروز ترېنه جوړ شو چې ډېره مذهبي بڼه لري.

په افغانستان کې د نوي کال ورځ په مزارشريف کې پيل کېږي، هلته د حضرت علي(ك) په روضه کې جنډې پورته کېږي. په هرات، کندهار، بغلان، کابل او ډېرو نورو سيمو کې چې حضرت علی(ك) ته منسوبه کومه احتمالي نښه پاته ده يا نور زيارتونه شته، جنډۍ پورته کېږي او د نوي کال د پيل مېلې او جشنونه جوړېږي چې په ځينو سيمو کې تر څلوېښتو ورځو پورې دوام مومي.

په افغانستان کې خلك نوروز ته ځانګړی چمتووالی لري. ځينې خلك مزار شريف ته ځي. پخوا چې کراري وه د بېلابېلو سيمو په تېره بيا کندهار او هلمند په سلګونو خلك به مزار ته تلل، هلته به يې د سخي شاه مردان د جنډۍ د پورته کولو په مراسمو کې برخه اخيسته، لمنځونه به يې کول، د ذکر حلقې به يې جوړولې او د خپلو ناپايه هيلو، ارمانونو او غوښتنو د پوره کولو له پاره د لوی خدای دربار ته د عجز لاسونه پورته کول او دعاوې کولې.

په اوسني وخت کې د نوي کال د پیل د ورځې جشنونه په افغانستان سربېره په ایران، تاجکستان، ازبکستان، پاکستان، آذربایجان، قرغزستان، قزاقستان، ترکیه او ځینو نورو هېوادونو او سیمو کې هم په بېلابېلو بڼو لمانځل کېږي. د دې ټولو لمانځلو هدف یو دی. د طبیعیت د نوي کېدلو او د پسرلي د راتګ خوشالي. د دې جشنونو ډېر ګډونوال په دې سوچ هم نه کوي چې دا کومه دیني بڼه لري که نه؟ او که یې لري، دلایل یې کوم دي؟

په دې وروستیو کلونو کې چې افغانستان له بده مرغه د ایدیولوژیو، فکرونو او ګټو د ټکر او جنګ په مرکز بدل شوی، ځینې مذهبي ډلې، ټولنې او اشخاص له نوروز سره مخالفت کوي او لمانځنه یې له دینسره په ټکر کې بولي.

دا ډله بې له دې چې د نوي کال لومړۍ ورځې، د طبیعت د بدلون او د کار او کسب د پیل د ورځو د لمانځنې په شان ومني، دا د دې سیمې د هغه وخت د خلکو یو دود بولي چې اور، لمر او داسې نور خدایګوټې لمانځل کېدل او یا د حضرت رسول کریم(ص) د یو حدیث روایتی تفسیر او تحلیل له دې لمانځلو سره د مخالفت عامل بولي.

دا لمانځنه په افغانستان کې ډېر اوږد تاریخ لري. په اسلامي نړۍ کې عباسي او اموي خلفاوو ورسره مخالفت نه دی کړی او په کور د ننه زموږ پخواینو دولتي او ټولنیزو مشرانو، دینی عالمانو، محقیقنو، محدثینو، فقهاوو، امراوو او ادباوو د نوی کال د لومړۍ ورځې مذمت نه دي کړی او حتی چی په لمانځلو کی یی هم برخه اخستی.
اوس چې دا کمکی ستونزه منځ ته راغلی، په کار ده چې افغانستان د دین او دنیا وتلي پوهان او عالمان په دې برخه کې داسې قواعد او اصول وضع کړي چې هم د خوښیو او خوشالیو یوه ورځ په ښه او پرتمینه توګه ولمانځل شي او هم د نوروز د لمانځنې په نامه د خرافاتو او احتمالاً بدعت مخه په خورا معقوله توګه نیول شوي دي.

د افغانستان خلك د نوی کال د پیل لومړۍ ورځ، د خپلو عنعناتو او روایاتو له مخې د یوې مذهبي_ ملي ورځې په شان لمانځي او ورته خوشاله کېږي؛ خو بله خوا هغه بهیر هم پیاوړي کېږي چې د دې ورځې لمانځل غیرشرعي بولي او خلك له نویو پوښتنو او ابهامونو سره مخامخ کوي. له همدې امله د پوهنتونونو استادان، مورخین، فولکلوریستان، د دین عالمان او ټولنپېژندونکي یا بله هره علمي- فرهنګي کړۍ باید د خلکو تاریخي معلومات ډېر او دا ابهام په علمي او منطقي دلایلو روښانه کړي چې د دې ورځې د لمانځلو له امله، یوه بله اختلافي مسله داسې لویه نه شي چې سبا موږ ته سیاسي ستونزې وزېږوي او د خلکو د بېلابېلو پرګنو تر منځ موجود واټن نور هم ډېر کاندي.

پای

آرین زی

۸ اپریل ۲۰۱۳